سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۶/۲۸

# زمونږ د خلکو لید د راتلونکي نسل په هکله، د پرمخ تللي هیوادونو په پرتله

د د نیا د خلکو ذهنیت دا دی ،چې راتلونکي نسل د سوکالي د پاره ډیر خدمتونه وکړي ،او ډیری آسیانتیاوي برابري کړي .پرته له دي چې د همدي وخت او زمان خلک چې په کښي ژوند کوي ،دوی په خپله ډیری ستونزي ګالي ،خو له بده مرغه زمونږ په وطن کې د کم سواده خلکو څخه په تیره دا اورو ، چې هر څه کیږي ، همدا اوس دي په مونږ ښه وي ، یعني په مونږ دي ښه تیره شي ،اوس چې مونږ خوشحالي او آرامي د دي وطن ونه وینو، په راتلونکي نسل دي خدای اور ولګوي ،په داسي حال کې چې داسي نه ده ، مونږ باید ډیر لیري راتلونکی په نظر کې ونیسو ،او د راتلونکو نسلونو د پاره خدمت وکړو ،او آسانتیاووي وربرابري کړو د موضوع د بلاغت او ښه رسوني د پاره به فکر کوم ، دا لنډه کیسه بسیا وي ، .

وایي چې یو پادشاه د ښکار په نیت مخ په سارا تللی وو ،په لاره کې یی یو غریب اوډیر زوړ سړی ولید ،چې میوه داره نیالګي کری ،او ده هغه نیالګی کره ،چې هغه ډیر عمر پس حاصل ورکوي ، نو پادشاه ورته رانږدي شو ،او په ټوکه یی ورته وویل :دا نیالکی چې ته یی کرې ،پر دي ډاډه یی چې د دي حاصل به وخوري ،په داسي حال کې چې دا ونه زنډ وروسته حاصل ورکوي ،دنیا دیده سپین ږیری د معرفت په رڼا کې ډیر ښکلی ځواب ورته ورکړ. او وي وییل :ډیر ځله پخوانیو وکرل او مونږیی میوی وخوړي ،نو مونږیی کرو تر څو راتلونکی نسل یی وخوري پادشاه چې په خپله هم زړه یی د معرفت په نور روښانه وو دا خبره یی ډیره په زړه ښه ولګیده ،او د عبرت ټکان یی وخوړ او خبره یی خوشه شوه ،دومره یی خوشه شوه چې سم دلاسه یی سپین د پاره د یو شاهانه خلعت او بخشش امر ورکړی ،سپین ږیری ډیر سخت کټکټ په خندا شو ،او ډیر یی وخندل ، پادشاه تري نه پشتنه وکړه چه څنګه دي دایی وخندل ! سپین ږیری چې زړه د معرفت په څراغ روشانه وو داسي ځواپ ورکړ چې د نورو نیالګي پس د ډیرو کلنو حاصل ورکوي ، زما نیالګي همدا اوس حاصل ورکړو ،پادشه په خپل هم په خندا شو او نوره هم دا خبره پری ښه وګیده ،او د نور بخشش امر یی هم ورکړو ،که نورو د راتلونو نسل د پاره خدمت کړی وای مونږ به په دي حال نه وو. د وطن د یو دردمن شاعر **سید حسن(حسن)** شعر د ی چې وایی :

## که نوروآسایش او آرام غواړي

## ګهواري غوندی د ځان ګریدل زده کره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ